د افغانستان اسلامي جمهوریت
ستره محکمه
د ویاند دفتر

جمهوری اسلامی افغانستان
ستره محکمه
دفتر سخنگو

Islamic Republic *of* Afghanistan
Supreme Court


۵۱
۹۷/۱/۲۶

نیټه: ۶/۱/۱۳۹۷

**د افغانستان د روڼتیا څار اداري محترم دفتر ته!**

**سلام او درنښت**

ستاسو اداري د ۲۰۱٦ کال په لندن کنفرانس کې له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د افغان دولت د شویو ژمنو په اړه د قضا په برخه کې په دې اړه د شویو پرمختګونو په رابطه معلومات غوښتي او له فورم سره مو یو ځای د اړونده تعهداتو لنډیز هم ضم کړی و. د ضم شویو تعهداتو په برخه کې، کومې یې چې تر سترې محکمې اړونده دي، په اړه یې کوټلي ګامونه اخستل شوي دي.

په ځانګړې توګه له فساد سره د مبارزې په برخه کې، د جمهوري ریاست د عالي مقام له لوري د حاکمیت د عالي شورا ایجاد چې اړونده چارو ته رسیده‌ګی او منظمې غونډې لري او ستره محکمه په دې شورا کې فعال حضور لري، له اداري فساد سره د مبارزې د محکمې (غیرسنګین) ایجاد او له درنو جرایمو سره د مبارزې عدلي او قضایي مرکز ایجاد چې قضایي برخه یې تر قضا (سترې محکمې) اړوند ده او په دې برخه کې یوازې په تیر ۱۳۹٦کال کې ګڼ شمیر دوسیو (په ابتدایه مرحله کې ۵۴ جلده او په استیناف مرحله کې ۲۲ جلده) ته تر اوسه رسیده‌ګی یې له مهمو لاسته راوړنو څخه یادولی شو. دغه شان له اداري فساد سره د مبارزې په اړوند، تیر کال په ابتدایه برخه کې ۷۵۰ او په استیناف برخه کې ۳۲۲ جلده دوسیو ته رسیده ګې شوې ده.

د قضا په ساحه کې د نو آوری په برخه کې، د ګڼو اړونده اداراتو په غړیتوب، قضا په مشری **(د قضایاوو د ثبت سیستمCMS)** رامنځته کول چې تر ټولو مهمه لاسته راوړنه ده او په مختلفو برخو کې د فساد د مخنیوي لپاره خورا اغیزمن دی، څخه یادونه کولی شو. په دغه سیستم کې چې د نړیوالې ټولنې له خوا یې تخنیکي مرسته کیږي، ټولې دوسیې ډیجتیلي کیږي او تر اوسه پکې د ۴سوه زرو په شاوخوا کې دوسیې ثبت شوي او عملا ورڅخه استفاده اخیستل کیږي. ددې سیستم فعالولو په ګڼو برخو کې د فساد مخه نیولې او خلک یا مراجعین یې له سرګردانیو او کاغذپرانیو راګرځولي دي. دې سیستم ته به په راتلونکې لا نوره پراختیا هم ورکول کیږي او تر اوسه یې ښې پایلې لرې دي. په اړونده چوکاټ شویو تعهداتو کې، نور شاخصونه یې تر قضا اړونده ونه بلل شول.

درنښت

امان الله ایمان

**د سترې محکمې ویاند**


پته: د سترې محکمې مرکزي تعمیر، دریم مکروریان، کابل، افغانستان
بریښنالیک: aman.iman8@gmail.com

Add: Central Building of Supreme Court, 3[d] Mecroryan, Kabul, Afghanistan.
Email: aman.iman8@gmail.com